مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی
+

پښتو ژباړه: رحمت آريا ۲۰۲۴/۰۴/۰۷

# د افغانستان سياسي - تأريخي - جغرافيوي ژورنال
# شپږم ټوک

۳۶۲ مه پرله پسې برخه

## کابل
## او د افغانستان سويل – ختيځې

ايديت:
ډاکټر لودويګ آدمک

AKADEMISCHE DRUCK- u. VERLAGSANSTALT
GRAZ – AUSTRIA

1985

* **ننګرهار:** [1]: ۲۶ – ۳۴، ۲۷ – ۷۰ : دا د افغانستان په ختيځ کې يو ولايت دی چې ۱۸۶۳۶ کيلومتر مربع مساحت لري او د وګړو شمـېـر ئـي نېـږدې ۴۶۹۶۰۰ تـنه اټکل سوی دی چې بزګرې پرګنې دي. دا ولايت له لويديځ لوري له کابل، له شمال لوري له لغمان او کونړ او له ختيځ او سويل لوري له پاکستان سره کربنه لري. ننګرهار په دغو ولسواليو ويشل سوی دی:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| کامديش | بر کونړ | پيچ | | اسعد آباد |
| سرکاني | ځوکي | خاص کونړ | | کوز کونړ |
| کامه | ګوشته | جلال آباد | | سرخ روډ |
| حصارک | خوګياني | دِهٔ بالا | هسکه مينه - ژ | رباط |
| اچين | شينوار | نازيان | | مهمند دره |

او په دغو علاقه داريو ويشل سوی دی:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| برګ ِ متال | چپه دره | دانګام | مروره | |

[1] -NANGARHAR


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزي بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| نرنګ | نورګل | بهسود | شیرازد | |
| چپ ریار | پچیرآګام | بټي کوټ | لالپور | |
| دور بابا | | | | |

د دې ولایت بنسټیز ښار جلال آباد نومیږي. د ولسوالیو د لیست لپاره وګورئ: د کرهنې او اوبو لګولو د وزارت د احصائیې د ریاست جدولونه چې په راتلونکو پاڼو کې راځي. د ننګرهار په هکله له ۱۹۱۴ کاله مخکې معلوماتو لپاره وګورئ: ننګرهار

* **ننګي خیل**: [2]: ۵۲ – ۳۴، ۱۰ – ۶۹ «ن»: دا د کابل د ولایت په شمال کې له کابله تر چاریکارو پورې تللي سړک ته نېږدې یو کلی دی.

**ننګرهار**: وګورئ: ننګرهار

**ناني**: [3]: ۲۳ – ۳۳، ۲۱ – ۶۸: دا د غلزیو په سیمې کې د «شلغر» [4] په علاقې کې له غزنې څخه ۱۲ مایله لیرې یو کلی دی. دا یو لوی ځای دی؛ د دې ځای په ګاونډ کې څو نورې کلاګانې دي چې اندړ غلزي په کې میشت دي. دلته واښـهٔ او د اوښ علوفه باب پریمانه دي او هم اوبـهٔ ئـې چې له یوهٔ کاریز څخه دي ډېـرې دي. تر دې کلي یوه دښته راتاو ده، دا دښته تر ډېـره شګلنه ده خو ډېـره کرهنه هم په کې سوې ده. له دیرهٔ اسمعیل خان څخه راغلي لاره د کابل – کندهار له سړک سره په ناني یو ځای کـېـږي. (آی. بي. سي) د «ناني غونډ» په نوم یو ځای په ۵۷ – ۳۲، ۱۷ – ۶۸ «الف» کې موقعیت لري.

**ناني**: ۵۹ – ۳۲، ۱۱ – ۶۸ «ج»: دا د غزنې په لویدیځ کې ۵۵ مایله سویل لور ته په دیوالونو کې محصور د ۴ یا ۵ کوچنیو کلیو یوه ډله ده. استوګن وګړي: سلیمان خیل او اندړ غلزي. اوبـهٔ له دې ځایه تر لاسه کیدای سي. (آی. بي. سي)


**ناني خیل** : دا د جلال آباد په حصارک کې یو کلی دی چې د خوګیاني وزیرو ۳۰۰ کورونه لري.

* **نو آباد**: ۲۱ – ۳۴، ۴۷ – ۶۶ «ن»: دا د بامیانو په ختیځ کې د «اسغرات» [5] په سویل ختیځ کې یو کلی دی. په دې نوم نور ځایونه: د کاپیسا په ولایت کې د تګاب د سیند د یوې څانګې پر غاړې د «چاه خیلو» [6] په سویل کې په ۵۷ – ۳۴، ۴۸ – ۶۹ «ن»؛ د لوګر په ولایت کې کابل ته د تللي سړک په اوږدو کې د احمد زیو شمال کې په ۱۸ – ۳۴، ۸ – ۶۹ «ن»؛ د ننګرهار په ولایت کې، جلال آباد ته نېـږدې د کونړ د سیند پر غاړه په ۲۶ – ۳۴، ۳۱ – ۷۰ «ن» کې؛ د غزنې په سویل لویدیځ کې د ناني په لویدیځ کې په ۲۳ – ۳۳، ۱۸ – ۶۸ «ن» کې.

[2] -NANGIKHEL
[3] -NANI
[4] -Shilghar
[5] -Asgharat
[6] -Chahikhel


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

Administrative Divisions of Nangarhar Province




| ولسوالي | کلي | کروندګر وګړي | ځمکوال | تر کښت لاندې ځمکه په جريب | | | ترکښت لاندې ځمکه په هکتار | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | خړوبه | للمه | ټولټال | خړوبه | للمه | ټولټال |
| اچين | ۲۷ | ۴۷۹۸۰ | ۵۵۳۰ | ۱۲۹۱۰ | ۱۸۴۹۰ | ۳۱۴۰۰ | ۲۵۸۲ | ۳۶۹۸ | ۶۲۸۰ |
| حصارک | ۴۹ | ۲۷۹۹۰ | ۲۶۶۰ | ۸۳۸۰ | ۱۱۷۸۰ | ۲۰۱۶۰ | ۱۶۷۶ | ۲۳۵۶ | ۴۰۳۲ |
| خوګياني (کږه، کزه) | ۸۲ | ۹۹۸۲۰ | ۱۰۲۹۰ | ۲۰۹۸۰ | ۲۸۰ | ۲۱۲۶۰ | ۴۱۹۶ | ۵۶ | ۴۲۵۲ |
| دِهٔ بالا | ۳۳ | ۲۴۶۴۰ | ۶۱۴۰ | ۱۱۰۵۰ | ۳۰۳۰ | ۱۴۰۸۰ | ۲۲۱۰ | ۶۰۶ | ۱۸۱۶ |
| سرخ روډ | ۵۱ | ۴۳۳۴۰ | ۶۸۷۰ | ۲۶۱۷۰ | ۳۰۰ | ۲۶۴۷۰ | ۵۲۳۴ | ۶۰ | ۵۲۹۴ |
| شينوار | ۵ | ۱۹۴۹۰ | ۱۳۶۰ | ۲۷۰۰ | ۱۰۴۰ | ۳۷۴۰ | ۵۴۰ | ۲۰۸ | ۷۴۸ |
| نازيان | ۶ | ۹۴۹۰ | ۲۸۰ | ۱۰۰۵۰ | — | ۱۰۰۵۰ | ۲۰۱۰ | — | ۲۰۱۰ |
| رودات «شاهي کوټ» | ۴۳ | ۳۹۲۸۰ | ۶۱۸۰ | ۱۵۹۷۰ | ۲۶۱۰۰ | ۴۲۰۷۰ | ۳۱۹۴ | ۵۲۲۰ | ۸۴۱۴ |
| مهمند دره | ۸ | ۱۸۴۵۰ | ۱۱۰۰ | ۷۸۶۰ | ۵۴۰ | ۸۴۰۰ | ۱۵۷۲ | ۱۰۸ | ۱۶۸۰ |

Table title: د کروندګرو وګړو او تر کښت لاندې ځمکو اټکل


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

| | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| کامه | ۴۲ | ۴۷۹۳۰ | ۲۷۶۰ | ۱۰۵۵۰ | ۶۰۲۰ | ۱۶۵۷۰ | ۲۱۱۰ | ۱۲۰۴ | ۳۳۱۴ |
| کوز کونړ «بنیوه» | ۱۸ | ۴۹۸۴۰ | ۲۱۲۰ | ۱۲۷۸۰ | ۳۲۰۰ | ۱۵۹۸۰ | ۲۵۵۶ | ۶۴۰ | ۳۱۹۶ |
| بټي کوټ «نادر شاه کوټ» | ۹ | ۲۴۵۰۰ | ۶۸۰۰ | ۱۷۸۵۰ | ۸۰۰ | ۱۸۶۵۰ | ۳۵۷۰ | ۱۶۰ | ۳۷۳۰ |
| بهسود | ۳۳ | ۱۳۷۹۰ | ۳۵۶۰ | ۸۸۲۰ | ۲۲۰۰ | ۱۱۰۲۰ | ۱۷۶۴ | ۴۴۰ | ۲۲۰۴ |
| دور بابا | ۲۳ | ۱۵۹۸۰ | ۱۳۹۰ | ۱۱۴۰ | ۱۳۲۰ | ۲۴۶۰ | ۲۲۸ | ۲۶۴ | ۴۹۲ |
| درۀ نور «د کوز کونړ دره» | ۲۰ | ۲۶۳۴۰ | ۱۸۵۰ | ۸۶۳۰ | ۶۳۰ | ۹۲۶۰ | ۱۷۲۶ | ۱۲۶ | ۱۸۵۲ |
| پچیر /آگام «واگام» | ۱۷ | ۱۷۹۷۰ | ۲۷۱۰ | ۸۹۲۰ | — | ۸۹۲۰ | ۱۷۸۴ | — | ۱۷۸۴ |
| چپ ریار «څپلیار» | ۲۵ | ۲۶۸۴۰ | ۲۱۶۰ | ۱۰۱۷۰ | — | ۱۰۱۷۰ | ۳۰۳۴ | — | ۳۰۳۴ |
| شیرزاد | ۱۹ | ۴۹۳۹۰ | ۱۲۰۵۰ | ۱۲۲۲۰ | ۹۲۷۰ | ۲۱۴۹۰ | ۲۴۴۴ | ۱۸۵۴ | ۴۲۹۸ |
| لال پور | ۹ | ۱۹۵۹۰ | ۷۳۰ | ۲۶۳۰ | ۲۰۰ | ۲۸۳۰ | ۵۲۶ | ۴۰ | ۵۶۶ |
| گوشته «خواجه زیور» | ۱۲ | ۱۸۲۵۰ | ۱۲۲۰ | ۱۹۵۰ | ۵۴۵۰ | ۷۴۰۰ | ۳۹۰ | ۱۰۹۰ | ۱۴۸۰ |
| ټولټال | ۵۳۱ | ۶۴۰۹۰۰ | ۷۷۷۶۰ | ۲۱۱۷۳۰ | ۹۰۶۵۰ | ۳۰۲۳۸۰ | ۴۳۳۴۶ | ۱۸۱۳۰ | ۶۱۴۷۶ |

| د مالدارۍ احصائیوي اټکل په ولسوالي او علاقه دارۍ | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| **ولسوالي** | **پسونه** | **قره قل پسونه** | **وزې** | **غواګانې** | **میښې** | **اوښان** | **آسونه** | **خرونه** | **کچرې** | **چرګان** |
| اچین | ۲۳۶۰ | — | ۳۷۹۰ | ۱۸۶۷۰ | ۱۶۹۰ | ۳۰ | ۵۰ | ۲۲۷۰ | ۲۸۵۰ | ۲۱۷۷۰ |
| حصارک | ۳۸۵۰ | — | ۳۴۹۰ | ۹۴۷۰ | ۱۰۰ | — | — | ۳۰۰۰ | ۸۰۰ | ۱۲۷۲۰ |
| خوګیاڼي (کږه، کزه) | ۸۹۰۰ | — | ۳۴۶۰ | ۱۴۸۹۰ | ۵۰ | ۲۴۰ | ۳۰ | ۴۸۹۰ | ۶۲۰ | ۳۲۵۰۰ |
| دِهٔ بالا | ۴۸۹۰ | — | ۲۴۰۰ | ۹۶۰۰ | ۱۵۰ | — | ۱۶۰ | ۱۳۰۰ | ۲۴۰ | ۹۸۳۰ |
| سرخ روډ | ۳۴۹۰ | — | ۱۵۰۰ | ۶۷۲۰ | ۱۸۰ | ۵۰ | ۶۰ | ۱۰۱۰ | ۵۶۰ | ۱۳۱۴۰ |
| شینوار | ۶۲۵۰ | — | ۴۲۰۰ | ۶۲۹۰ | ۷۰ | ۳۰ | ۸۰ | ۱۹۹۰ | ۹۵۰ | ۲۶۵۰ |
| نازیان | ۱۳۹۰ | — | ۱۲۴۰ | ۴۶۰ | ۲۶۰ | — | — | ۲۳۰ | ۴۴۰ | ۲۲۴۰ |
| رودات «شاهي کوټ» | ۸۸۹۰ | — | ۲۵۰۰ | ۸۹۰۰ | ۵۰۰ | ۲۰ | ۶۰ | ۱۴۵۰ | — | ۱۴۳۸۰ |
| مهمند دره | ۱۲۰۰ | — | — | ۵۳۸۰ | ۴۵۰ | — | — | ۱۳۵۰ | — | ۸۰۰۰ |
| کامه | ۱۳۶۰ | — | — | ۹۱۹۰ | ۶۵۰ | — | — | ۲۲۸۰ | — | ۷۱۶۰ |
| کوز کونړ «بنیوه» | ۱۴۰۰ | — | ۳۴۰ | ۹۵۰۰ | ۵۰ | ۷۰ | — | ۱۹۹۰ | — | ۸۹۷۰ |
| بټي کوټ «نادر شاه کوټ» | ۹۳۰ | — | ۱۴۶۰ | ۳۷۰۰ | ۱۶۰ | — | ۶۰ | ۹۸۰ | — | ۳۱۰۰ |
| بهسود | ۳۳۶۰ | — | ۵۹۰ | ۶۶۲۰ | ۶۵۰ | ۵۰ | ۳۰ | ۱۵۹۰ | ۶۵۰ | ۷۳۴۰ |
| دور بابا | ۱۱۸۰ | — | ۱۵۹۰ | ۱۷۶۰ | ۳۹۰ | ۲۳۰ | ۸۰ | ۱۸۰۰ | ۷۰۰۰ | ۳۶۸۰ |



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پاږوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

| | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| درهٔ نور «د کوز کونړ دره» | ۵۵۱۰ | ـــ | ۹۴۵۰ | ۹۳۲۰ | ۲۶۹۰ | ۳۰۰ | ۷۰ | ۹۵۰ | ۴۳۰ | ۱۷۵۵۰ |
| پچیر /آگام «واگام» | ۲۶۳۰ | ـــ | ۱۷۵۰ | ۴۱۹۰ | ۹۰ | ـــ | ـــ | ۱۸۰۰ | ۵۴۰ | ۱۱۷۰۰ |
| چپ ریار «ښپلیار» | ۴۰۰ | ـــ | ۶۵۰ | ۹۶۸۰ | ۱۶۰ | ۱۰۰ | ـــ | ۷۲۰ | ـــ | ۵۳۴۰ |
| شیرزاد | ۱۷۲۰ | ـــ | ۲۴۸۰ | ۴۲۹۰ | ـــ | ـــ | ۹۰ | ۱۹۰۰ | ۹۴۰ | ۳۰۸۰ |
| لال پور | ـــ | ـــ | ۱۴۲۰ | ۴۹۰۰ | ۸۰۰ | ـــ | ـــ | ۱۹۸۰ | ـــ | ۳۲۸۰ |
| گوشته «خواجه زیور» | ۱۶۲۰ | ـــ | ۸۰۰ | ۴۸۵۰ | ۴۸۰ | ـــ | ـــ | ۱۳۰۰ | ـــ | ۴۹۰۰ |
| ټولټال | ۶۱۳۳۰ | ـــ | ۴۳۱۱۰ | ۱۴۸۳۸۰ | ۹۵۷۰ | ۱۱۲۰ | ۷۷۰ | ۳۴۷۸۰ | ۱۶۰۲۰ | ۱۹۳۳۸۰ |

**د کرنیزو محصولاتو تولید په کابلي سیر**

| ولسوالي | غلات | | | سابـهٔ | نور کرنیز محصولات | | میوې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | غنم | وربشې | جوار | | صنعتي محصولات | نو مؤقت محصولات | |
| اچین | ۹۶۰۵۰۰ | ۱۰۶۸۰۰ | ۱۰۶۷۳۰۰ | ۲۸۰۸۰۰ | ۲۸۳۵۰ | ۷۵۱۲۰۰ | ۱۲۲۸۸۰ |
| حصارک | ۴۸۸۰۰ | ۶۹۲۴۰ | ۵۵۷۲۴۰ | ۱۵۲۱۰۰ | ۲۸۳۵۰ | ۴۸۰۰۰۰ | ۵۴۱۴۴۰ |
| خوگیاني (کږه، کزه) | ۱۶۵۹۰۰۰ | ۱۶۸۰ | ۱۶۶۰۶۸۰ | ۹۲۴۳۰۰ | ۵۰۵۶۴۰ | ۲۸۸۰۰ | ۵۱۴۵۶۰ |
| دِهٔ بالا | ۷۹۶۵۰۰ | ۱۶۸۰۰ | ۸۱۳۳۰۰ | ۱۷۳۱۶۰ | ـــ | ۷۲۰۰۰ | ۲۰۷۳۶۰ |
| سرخ رود | ۱۳۳۲۵۰۰ | ۱۸۰۰ | ۱۳۳۴۳۰۰ | ۳۵۸۰۲۰ | ۵۳۲۹۸۰ | ۷۳۴۴۰۰ | ۳۹۳۶۰۰ |
| شینوار | ۱۹۸۰۰۰ | ۱۲۰۰۰ | ۲۱۰۰۰۰ | ۱۲۶۳۶۰ | ۱۸۱۴۴۰ | ۶۵۵۲۰۰ | ۱۳۴۴۰ |
| نازیان | ۹۳۹۰۰۰ | ـــ | ۹۳۹۰۰۰ | ۴۳۲۹۰۰ | ـــ | ۴۸۰۰۰ | ۳۸۴۰۰ |
| رودات «شاهي کوټ» | ۸۳۰۵۰۰ | ۹۸۲۸۰ | ۹۲۸۷۸۰ | ۳۹۰۷۸۰ | ۱۱۳۹۶۷۰ | ۶۷۲۰۰۰ | ۷۶۸۰۰ |
| مهمند دره | ۵۹۹۰۰۰ | ۲۰۴۰ | ۶۰۱۰۴۰ | ۱۷۵۵۰۰ | ـــ | ۸۹۵۲۰۰ | ۲۳۰۴۰ |
| کامه | ۱۱۸۵۰۰ | ۳۴۸۰۰ | ۱۵۳۳۰۰ | ۱۰۹۹۸۰ | ۱۷۰۱۰۰ | ۸۷۳۶۰۰ | ۵۹۹۰۴۰ |
| کوز کونړ «بنیوه» | ۸۱۸۰۰۰ | ۱۸۰۰۰ | ۸۳۶۰۰۰ | ۴۲۵۸۸۰ | ۳۴۰۲۰۰ | ۴۸۰۰۰۰ | ۲۸۸۰۰۰ |
| بټي کوټ «نادر شاه کوټ» | ۱۸۱۰۰۰۰ | ۴۸۰۰ | ۱۸۱۴۸۰۰ | ۳۶۷۳۸۰ | ۵۷۲۶۷۰ | ۲۶۴۰۰ | ـــ |
| بهسود | ۶۳۷۰۰۰ | ۸۴۰۰ | ۶۴۵۴۰۰ | ۲۷۳۷۸۰ | ۲۹۵۸۴۰ | ۲۸۸۰۰ | ۲۸۸۰۰ |
| دور بابا | ۹۵۵۰۰ | ۷۲۰۰ | ۱۰۲۷۰۰ | ـــ | ـــ | ۳۶۰۰۰ | ـــ |
| درهٔ نور «د کوز کونړ دره» | ۸۸۷۰۰۰ | ۱۵۶۰ | ۸۸۸۵۶۰ | ـــ | ۲۳۸۱۴۰ | ۴۸۰۰۰ | ۹۴۰۸۰ |
| پچیر /آگام «واگام» | ۹۱۲۰۰۰ | ـــ | ۹۱۲۰۰۰ | ۲۲۹۳۲۰ | ۵۷۲۶۷۰ | ۵۲۰۸۰۰ | ۱۴۵۹۲۰ |
| چپ ریار «ښپلیار» | ۹۹۰۰۰۰ | ـــ | ۹۹۰۰۰۰ | ۲۳۱۶۶۰ | ۳۶۸۵۵۰ | ۷۲۰۰۰ | ۱۳۶۳۲۰ |
| شیرزاد | ۱۱۵۲۰۰۰ | ۱۲۶۱۲۰ | ۱۲۷۸۱۲۰ | ۶۲۴۷۸۰ | ـــ | ۷۲۴۸۰۰ | ۳۶۳۰۴۰ |
| لال پور | ۱۵۶۰۰۰ | ۱۳۲۰ | ۱۵۷۳۲۰ | ۲۲۶۹۸۰ | ۲۲۱۱۳۰ | ۶۵۵۲۰۰ | ۵۷۶۰ |
| گوشته «خواجه زیور» | ۱۵۱۰۰۰ | ۳۲۷۶۰ | ۱۸۳۷۶۰ | ۱۱۹۳۴۰ | ـــ | ۴۸۰۰۰ | ـــ |
| ټولټال | ۱۵۵۳۰۰۰۰ | ۵۴۳۶۰۰ | ۱۶۰۷۳۶۰۰ | ۵۶۲۳۰۲۰ | ۵۱۹۵۷۳۰ | ۷۸۵۰۴۰۰ | ۳۴۹۲۴۸۰ |


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیږ بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خیر و لولـئ

| ولسوالي | ساحه په جریب | | | | ټولټال | د سرچینو شمېر | | | | د اوبو ژرندې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | نهرونه | چینې | کاریزونه | څاهان | | نهرونه | چینې | کاریزونه | څاهان | |
| اچین | – | ۸۹۱۰ | ۴۰۰۰ | – | ۱۲۹۱۰ | – | ۱۸ | ۶۴ | – | ۱۰۴ |
| حصارک | ۴۲۰۰ | ۱۱۸۰ | ۳۰۰۰ | – | ۸۳۸۰ | ۱۵ | ۱۹ | ۴۵ | – | ۶۶ |
| خوګیاڼي (کږه، کزه) | ۱۲۴۸۰ | ۳۳۰۰ | ۵۱۸۰ | ۲۰ | ۲۰۹۸۰ | ۲۳ | ۳۹ | ۸۳ | ۴ | ۱۶۶ |
| دِهٔ بالا | ۹۵۴۰ | ۱۳۵۰ | ۱۶۰ | – | ۱۱۰۵۰ | ۵ | ۳۲ | ۱ | – | ۴۸ |
| سرخ روډ | ۲۴۱۷۰ | ۲۰۰۰ | – | – | ۲۶۱۷۰ | ۱۶ | ۸ | – | – | ۱۲۶ |
| شینوار | – | – | ۲۷۰۰ | – | ۲۷۰۰ | ۲ | ۲ | ۴۳ | – | ۱۳ |
| نازیان | ۸۰۰۰ | – | ۲۰۵۰ | – | ۱۰۰۵۰ | ۶ | ۵ | ۳ | – | ۱۷ |
| رودات «شاهي کوټ» | ۷۷۹۰ | ۲۴۹۰ | ۵۶۹۰ | – | ۱۵۹۷۰ | ۴۳ | ۱۳ | ۸۴ | – | ۹۶ |
| مهمند دره | ۴۲۵۰ | – | ۳۶۰۰ | ۱۰ | ۷۸۶۰ | ۸ | ۴ | ۴۱ | ۳ | ۱۰ |
| کامه | ۱۰۰۰۰ | ۵۵۰ | – | – | ۱۰۵۵۰ | ۲۹ | ۸ | – | – | ۴۹ |
| کوز کونړ «بنیوه» | ۱۲۷۸۰ | – | – | – | ۱۲۷۸۰ | ۱۷ | ۱ | – | – | ۲۶ |
| بټي کوټ «نادر شاه کوټ» | ۱۶۳۰۰ | – | ۱۵۵۰ | – | ۱۷۸۵۰ | ۴ | ۳ | ۲۵ | – | ۳۴ |
| بهسود | ۸۲۹۰ | ۲۲۰ | ۳۰۰ | ۱۰ | ۸۸۲۰ | ۱۱ | ۴ | ۱۱ | ۴ | ۴۶ |
| دور بابا | ۲۸۰ | ۶۶۰ | ۲۰۰ | – | ۱۱۴۰ | ۱۲ | ۱۷ | ۳ | – | – |
| درهٔ نور «د کوز کونړ دره» | ۳۷۳۰ | – | ۴۹۰۰ | – | ۸۶۳۰ | ۱۰ | ۱۲ | ۱۰ | – | ۴۲ |
| پچیر /آګام «واګام» | ۸۹۲۰ | – | – | – | ۸۹۲۰ | ۱۴ | ۸ | ۳ | – | ۴۲ |
| چپ ریار «خپلیار» | ۳۰۲۰ | ۱۱۵۰ | ۶۰۰۰ | – | ۱۰۱۷۰ | ۳۰ | ۳ | ۵۸ | – | ۴۳ |
| شیرزاد | ۴۳۰۰ | – | ۷۹۲۰ | – | ۱۲۲۲۰ | ۱۳ | ۱۱ | ۲۱ | – | ۶۲ |
| لال پور | ۲۶۲۰ | – | – | ۱۰ | ۲۶۳۰ | ۸ | – | – | ۲ | ۷ |
| ګوشته «خواجه زیور» | ۱۹۴۰ | – | – | ۱۰ | ۱۹۵۰ | ۸ | ۳ | – | ۲ | ۴ |
| ټولټال | ۱۴۲۶۱۰ | ۲۱۸۱۰ | ۴۷۲۵۰ | ۶۰ | ۲۱۱۷۳۰ | ۲۷۴ | ۲۱۰ | ۴۹۵ | ۱۵ | ۱۰۰۱ |

Table title: **خړوبې ځمکې او د اوبو لګولو سرچینې ئـې**

**د محصول پر بنسټ د کرنیزو ځمکو ټولټال په کابلي جریب**

| ولسوالي | غلات | | ټولټال | سابـهٔ | صنعتي محصولات | نور محصولات | میوې | د کښت وړ ځمکو ټولټال |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | خړوبه | للمه | | | | | | |
| اچین | ۱۹۲۱۰ | ۸۹۰۰۰ | ۲۸۱۱۰ | ۱۲۰۰ | ۵۰ | ۳۱۳۰ | ۶۴۰ | ۳۳۱۳۰ |



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| حصارک | ۹۷۶۰ | ۵۷۷۰ | ۱۵۵۳۰ | ۶۵۰ | ۵۰ | ۲۰۰۰ | ۲۸۲۰ | ۲۱۰۵۰ |
| خوګياڼي (کږه، کزه) | ۳۳۱۸۰ | ۱۴۰ | ۳۳۳۲۰ | ۳۹۵۰ | ۸۹۰ | ۱۲۰ | ۲۶۸۰ | ۴۰۹۶۰ |
| دِهٔ بالا | ۱۵۹۳۰ | ۱۴۰۰ | ۱۷۳۳۰ | ۷۴۰ | — | ۳۰۰ | ۱۰۸۰ | ۱۹۴۵۰ |
| سرخ روډ | ۲۶۶۵۰ | ۱۵۰ | ۲۶۸۰۰ | ۱۵۳۰ | ۹۴۰ | ۳۰۶۰ | ۲۰۵۰ | ۳۴۳۸۰ |
| شينوار | ۳۹۶۰ | ۱۰۰۰ | ۴۹۶۰ | ۵۴۰ | ۳۲۰ | ۲۷۳۰ | ۷۰ | ۸۶۲۰ |
| ناریان | ۱۸۷۸۰ | — | ۱۸۷۸۰ | ۱۸۵۰ | — | ۲۰۰ | ۲۰۰ | ۲۱۰۳۰ |
| رودات «شاهي کوټ» | ۱۶۶۱۰ | ۸۱۹۰ | ۲۴۸۰۰ | ۱۶۷۰ | ۲۰۱۰ | ۲۸۰۰ | ۴۰۰ | ۳۱۶۸۰ |
| مهمند دره | ۱۱۹۸۰ | ۱۷۰ | ۱۲۱۵۰ | ۷۵۰ | — | ۲۷۳۰ | ۱۲۰ | ۱۷۷۵۰ |
| کامه | ۲۳۷۰ | ۲۹۰۰ | ۵۲۷۰ | ۴۷۰ | ۳۰۰ | ۳۶۴۰ | ۳۱۲۰ | ۱۲۸۰۰ |
| کوز کونړ «بنیوه» | ۱۶۳۶۰ | ۱۵۰۰ | ۱۷۸۶۰ | ۱۸۲۰ | ۶۰۰ | ۲۰۰۰ | ۱۵۰۰ | ۲۳۷۸۰ |
| بټي کوټ «نادر شاه کوټ» | ۳۶۲۰۰ | ۴۰۰ | ۳۶۶۰۰ | ۱۵۷۰ | ۱۰۱۰ | ۱۱۰ | — | ۳۹۲۹۰ |
| بهسود | ۱۲۷۴۰ | ۷۰۰ | ۱۳۴۴۰ | ۱۱۷۰ | ۵۲۰ | ۱۲۰ | ۱۵۰ | ۱۵۴۰۰ |
| دور بابا | ۱۹۱۰ | ۶۰۰ | ۲۵۱۰ | — | — | ۱۵۰ | — | ۲۶۶۰ |
| درهٔ نور «د کوز کونړ دره» | ۱۷۷۴۰ | ۱۳۰ | ۱۷۸۷۰ | — | ۴۲۰ | ۲۰۰ | ۴۹۰ | ۱۸۹۸۰ |
| پچير /آګام «واګام» | ۱۸۲۴۰ | — | ۱۸۲۴۰ | ۹۸۰ | ۱۰۱۰ | ۳۱۷۰ | ۷۶۰ | ۲۴۱۷۰ |
| چپ ريار «څپلیار» | ۱۹۸۰۰ | — | ۱۹۸۰۰ | ۹۹۰ | ۶۵۰ | ۳۰۰ | ۷۱۰ | ۲۲۴۵۰ |
| شيرزاد | ۲۳۰۴۰ | ۱۰۵۱۰ | ۳۳۵۵۰ | ۲۶۷۰ | — | ۳۰۲۰ | ۱۳۷۰ | ۴۰۶۱۰ |
| لال پور | ۳۱۲۰ | ۱۱۰ | ۳۲۳۰ | ۹۷۰ | ۳۹۰ | ۲۷۳۰ | ۳۰ | ۷۳۴۰ |
| ګوشته «خواجه زيور» | ۳۰۲۰ | ۲۷۳۰ | ۵۷۵۰ | ۵۱۰ | — | ۲۰۰ | — | ۶۴۶۰ |
| ټولټال | ۳۱۰۶۰۰ | ۴۵۳۰۰ | ۳۵۵۹۰۰ | ۲۴۰۳۰ | ۹۱۶۰ | ۳۲۷۱۰ | ۱۸۱۹۰ | ۴۳۹۹۹۰ |

| **د کښت وړ ځمکو ټول ټال په کابلي جريب** | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| **ولسوالي** | **ټولټال** | **پووندې** | **ځنګلونه** | **تر کښت لاندې** | **هغه ځمکې چې يو کال کرل کېږي او بل کال نه کرل کېږي** |
| اچين | ۱۱۶۱۶۰ | ۱۱۹۷۰ | ۷۲۷۹۰ | ۳۱۴۰۰ | ۱۱۷۶۰ |
| حصارک | ۱۹۵۵۴۰ | ۱۳۳۰۰ | ۱۶۲۰۸۰ | ۲۰۱۶۰ | ۷۷۹۰ |
| خوګياڼي (کږه، کزه) | ۱۰۷۹۶۰ | ۲۲۷۰۰ | ۶۴۰۰۰ | ۲۱۲۶۰ | ۳۵۵۰ |
| دِهٔ بالا | ۲۲۷۴۰ | ۸۶۶۰ | — | ۱۴۰۸۰ | ۳۷۵۰ |
| سرخ روډ | ۹۶۲۶۰ | ۱۹۲۳۰ | ۵۰۵۶۰ | ۲۶۴۷۰ | ۵۱۵۰ |
| شينوار | ۵۹۲۰ | ۲۱۸۰ | — | ۳۷۴۰ | ۲۰۱۰ |
| ناریان | ۱۰۱۳۰۰ | ۱۲۶۰ | ۸۹۹۹۰ | ۱۰۰۵۰ | ۳۵۳۰ |
| رودات «شاهي کوټ» | ۹۷۳۹۰ | ۳۳۳۰ | ۵۱۹۹۰ | ۴۲۰۷۰ | ۱۵۵۶۰ |
| مهمند دره | ۹۵۲۰ | ۱۱۲۰ | — | ۸۴۰۰ | ۲۰۳۰ |
| کامه | ۱۹۰۵۰ | ۲۴۸۰ | — | ۱۶۵۷۰ | ۳۸۲۰ |
| کوز کونړ «بنیوه» | ۱۷۹۱۰ | ۱۹۳۰ | — | ۱۵۹۸۰ | ۴۰۹۰ |
| بټي کوټ «نادر شاه کوټ» | ۴۹۸۴۰ | ۶۷۵۰ | ۲۴۴۴۰ | ۱۸۶۵۰ | ۳۵۴۰ |
| بهسود | ۴۶۷۳۰ | ۳۵۷۱۰ | — | ۱۱۰۲۰ | ۲۶۵۰ |


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| دور بابا | ۵۸۱۱۰ | ۵۰۴۰ | ۵۰۶۱۰ | ۲۴۶۰ | ۱۴۱۰ |
| درۀ نور «د کوز کونړ دره» | ۵۶۹۵۰ | ۴۷۶۹۰ | — | ۹۲۶۰ | ۲۲۰۰ |
| پچیر /آگام «واگام» | ۹۷۹۸۰ | ۶۷۷۰ | ۸۲۲۹۰ | ۸۹۲۰ | ۲۰۷۰ |
| چپ ریار «څپلیار» | ۱۳۰۴۰ | ۲۸۷۰ | — | ۱۰۱۷۰ | ۲۱۱۰ |
| شیرزاد | ۲۲۲۸۰ | ۷۹۰ | — | ۲۱۴۹۰ | ۶۹۶۰ |
| لال پور | ۴۴۵۰ | ۱۶۲۰ | — | ۲۸۳۰ | ۱۰۷۰ |
| گوشته «خواجه زیور» | ۳۴۹۵۰ | ۲۰۰۰ | ۲۵۵۵۰ | ۷۴۰۰ | ۲۶۰۰ |
| ټولټال | ۱۱۷۴۰۸۰ | ۱۹۷۴۰۰ | ۶۷۴۳۰۰ | ۳۰۲۳۸۰ | ۸۷۶۵۰ |

**نو آباد**: ۴۹ – ۳۴، ۷ – ۷۱ : دا د کونړ د سیند له پاسه، د «نوا پاس» [7] د کوتل له لارې چغه سرای ته د تللي سړک په اوږدو کې له «سرکاني» [8] څخه نیـږدې دوه مایله پورته یوه جاله ده. د جالې مخ د لرګیو له تختو جوړ دی او ورلاندې ئـې په هوا ډک سوي خیګونه یا مشکونه دي چې انسانان او د هغوی توکي د سیند بلې غاړې ته تـېـروي، دا جاله په یوۀ وار ۱۲ تنه تـېـرولای سي، دا جاله څاروي نـۀ تـېـروي او باید په لامبو تـېـر سي. دا جاله رسی نـۀ لري خو درې تنه لري چې پارو وهي. دلته همدا یوه د تختو جاله ده، خو په سرکاني کې له څنډ پرته جاله جوړیدای سي ځکه هر څوک یو «شناز» [9] یا پړسیدلی خیګ لري. سیند دلته ۱۰۰ یارډه ارت دی او یو لږ څه چټک بهاندی دی. په جاله کې د ۴ سپاهیانو یو ګارد هم سته چې مسافران تلاشي کوي. (ان. آی)

**نو آباد**: ۴۹ – ۳۴، ۷ – ۷۱ «ن»: دا له چغه سرای ۵ مایله کوز د کونړ د سیند په ښي غاړه کې یو کوچنی کلی دی. (ان. آی)

**نو بریده**: [10]: ۲۰ – ۳۴، ۸ – ۶۷ «ج»: دا د «پنجاو سرای» [11] د ختیځ په نیـږدې ۶ مایلۍ کې یو ټیټ کوتل دی چې د کابل – هزاره جات- دولت یار سړک ورباندې تـېـرېـږي.

**نوبریده**: وګورئ: نو بریده

**نوده موره**: [12]: – ۳۴، – ۷۰: دا د الینګار د سیند په ښي غاړه کې د کابل له سیند سره د یو ځای کیدلو ټکي ته نیـږدې په لغمان کې یو کلی دی. استوګن وګړي: جبار خیل غلزي، مهمند او نور قومونه. لاندې د هغو کوچنیو کلیو لیست وړاندې کـېـږي چې دا ځای ئـې جوړ کړی دی:

<table>
<tr><td>۱</td><td>قابـیل سربلند خان</td><td>Kabil -i- Sarbuland Khan</td><td>۴</td><td>قابـیل ناصري</td></tr>
<tr><td>۲</td><td>کهنه لاره موره</td><td>Kohna Lara Mora</td><td>۵</td><td>زیارتِ بابا جي</td></tr>
<tr><td>۳</td><td>مشینه</td><td>Mashina</td><td></td><td></td></tr>
<tr><td colspan="5">(واربرتن)</td></tr>
</table>

7 -Nawa Pass
8 -Sarkani
9 -shinaz
10 -NAO BORIDA
11 -Panjao serai
12 -NAODA MORA


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

**نو دِه**: ــ ۳۴، ــ ۶۹: دا د کوز لوګر په درې کې د لوګر د سیند د ښی غاړې په اوږدو کې، د زرغون ښار د شمال لویدیځ په ۵ مایلی کې او د تنګي واغ جان د شمال په ۳ مایلی کې یو کلی دی. استوګن وګړي: تاجیکان. دغهٔ کلي په ۱۸۸۰ز کال کې ۱۵۰ کورنۍ درلودلې. (کلیفرډ)

* **نو دِه**: ۵۷ ــ ۳۴، ۱۵ ــ ۶۹ «ن»: دا د پروان د ولایت په سویل کې «جم ګادام» [13] ته نېــږدې یو کلی دی. په دې نوم نور ځایونه: د غزني په ولایت کې د ناور د دښتي په شمال لویدیځ ګوټ کې «قره» [14] ته نېــږدې په ۴۴ ــ ۳۳، ۴۴ ــ ۶۷ «ن» کې؛ د ناور د دښتي په سویل لویدیځ کې او د «لومان» [15] شمال کې په ۱۵ ــ ۳۳، ۲۹ ــ ۶۷ «ن»؛ د پکتیا په ولایت کې د «زوړ کوټ» [16] په سویل ختیځ کې او د متون په شمال کې په ۲۹ ــ ۳۳، ۵۵ ــ ۶۹ «ن» کې.

**نو دِه**: ــ ۳۴، ــ ۶۹ : دا د کابل د چهاردهي په درې کې د دِهٔ مزنګ د لویدیځ په ۲ مایلی کې د کابل – غزني د سړک په شمال کې په دیوالونو کې محصور یو نسبتاً لوی کلی دی. استوګن وګړي: تاجیکان. (کینیډي)

**ناوِ امین الملک**: [17]: دا د لوګر په برې درې کې یو کلی دی. استوګن وګړي: پارسیوانان. په ۱۸۸۰ز کال کې دا کلی له دریو کوچنیو کلیو څخه جوړ سوی وو چې ۵۰ کورنۍ په کې میشتې وې. (کلیفرډ، ایوان سیمټ)

**نو جو**: ــ ۳۴، ــ ۶۶: دا یو منځغرۍ دی چې د دای زنګي په سیمې کې د کرمان پر درې راکوز سوی دی.

*__نو جوی__: ۱۲ ــ ۳۳، ۲ ــ ۶۷ «ن»: دا د غزني په ولایت کې د «سبز درې» په سیمې کې «شینه» ته نېــږدې یو کلی دی. په دې نوم نور ځایونه : د بامیانو په ولایت کې د «نشر» [18] په سویل ختیځ کې د بند امیر د یوې ښاخې په اوږدو کې په ۴۰ ــ ۳۴ ، ۵ ــ ۶۷ «ن» کې؛ د بامیانو په ولایت کې د «شهر خوات» [19] په سویل لویدیځ کې د «میان آباد» [20] په شمال ختیځ کې په ۱ ــ ۳۴، ۴۹ ــ ۶۷ کې موقعیت لري.

* **نو قلعه**: یا: نو قلا: ۵۹ ــ ۳۳، ۲ ــ ۶۸ «ن»: دا د غزني په شمال کې «کمر» [21] ته نېــږدې یو کلی دی.

**نوقلعه**: ۴ ــ ۳۴، ۴ ــ ۶۸ «الف» : دا د لوګر د درې په پورتــنۍ برخې کې د چرخ د څلورو کلیو په منځ کې یو کلی دی. استوګن وګړي: تاجیکان. (کلیفرډ)

**نو قلعه**: ۳۷ ــ ۳۳، ۲۴ ــ ۶۸ «ج» ؛ دا د غزني د شمال په ۶ مایلی کې یو کلی دی چې د تاجیکانو ۶۰ کورونه په کې ودان دي. همدا شان دلته د سړک په مقابل لور کې «چهاربرجه» [22] ده چې ۲۰ کورونه لري. (محمد اکبر خان)

**نو قلعه**: دا د هلمند د سیند په کیڼي غاړې کې په دیوالونو کې محصور یو کوچنی کلی دی.

---

[13] -Jamgadam
[14] -Qara
[15] -Luman
[16] -Zorkot
[17]- NAO- I- AMIN- UL- MULK : ددې نوم مخې ته ئــې په عربي الفبا په تیروتنې «نوِ امین الملک» لیکلي دي. - ژ
[18] -Nashar
[19] -Shahr -i- Khawat
[20] -Mianabad
[21] -Kamar
[22] -Chaharburja


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولــئ

**ناو کلا**: [23]: ۷ – ۳۵، ۲۲ – ۷۱ : دا کونړ د سیند د ښی غاړي په اوږدو کي د کونړ د سیند د «پرګان درې» [24] د سیند د یو ځای کیدلو ټکي ته نیـږدې له «اسنار؟» [25] (اسمار - ژ) ځخه ۲/۱ – ۸ مایله پورته یو کلی دی. (آی. بي. سي)

**ناو کلا**: وګورئ: زري

**ناو نیاز**: [26] : – ۳۴، – ۶۹: دا د کابل په ولسوالي کي د چهل دختران او «او بازک» [27] تر منځ او د کابل د سرک د لویدیځ په ۲/۱ – ۱ مایلی کي یو کلی دی. دا کلی شاوخوا ۳۰۰ کورنی لري چي تاجیکان په کي استوګن دي. له دې کلي او له ګاونډ ځخه ئـي سون توکي، علوفه باب، غلات، پسونه او وزې په آسانه تر لاسه کیدای سي. اوبـهٔ ئـي پريمانه دي. (جانستن)

* **نو رَک**: [28] : ۲۶ – ۳۳، ۱ – ۶۸ «ن»: دا د غزني په سویل لویدیخ کي «تلخک» [29] ته نیـږدې یو کلی دی. په دې نوم نور ځایونه: د بامیانو په لویدیځ کي د «کوهٔ دیوالک» [30] په ختیځ کي د «تلخک» په شمال ختیځ کي په ۸ – ۳۴، ۴۴ – ۶۶ «ن» کي؛ د بامیانو د ولایت په لویدیځ کي د «اسغرات» [31] په ختیځ کي په ۲۳ – ۳۴، ۵۹ – ۶۶ «ن» کي؛ د بامیانو د ولایت په لویدیځ کي د «ناو بیني ګاو» په اوږدو کي په ۱۷ – ۳۴، ۴۹ – ۶۶ «ن» کي؛ د «سرخ آباد» [32] په سیمي کي د هلمند د یوې څانګي په اوږدو کي په ۱۷ – ۳۴، ۳۹ – ۶۷ «ن» کي؛ د بامیانو په ولایت کي د «قولِ څویتمن» [33] په اوږدو کي په ۱۵ – ۳۴، ۱۳- ۶۷ «ن» کي.

**نورک**: دا د بهسودو د سیمي په شمال لویدیځ کي یو کلی دی.

**ناو رام: نو رام**: [34]: دا په لغمان کي یو کلی دی. استوګن وګړي: تاجیکان. دا کلی له دریو کوچنیو کلیو ځخه جوړ سوی دی په لاندې ډول:

| | | |
|---|---|---|
| ۱ | حاجي آباد | |
| ۲ | دو برجه | |
| ۳ | کرندالي | Krandali |
| | (واربرتن) | |

**نو روز**: دا د بهسود هزاره ګانو یوه لویه څانګه ده.

23- NAO KALA : ددغـهٔ نوم مخي ته ئـي په عربي الفباء «نو قلعـه» لیکلي دي. - ژ

24 -Asnar
25 -Pargan dara

26- NAO NIAZ : ددغـهٔ نوم مخي ته ئـي په عربي الفباء «نیاز نو» لیکلي دي. - ژ

27 -Aobazak
28 -NAORAK
29 -Talkhak
30-Kuh -i- Diwalak
31 -Asgharat
32 -Surkhabad
33 -Qol- i- Tsoitaman
34 -Surkhabad


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولـئ

**نو روزي**: ۴۴ – ۳۴، ۴۴ – ۶۷ «ن»: دا د باميانو د سيند د يوې څانګې په اوږدو کې د باميانو په سويل لويديځ کې يو کلی دی. په دې نوم يو بل ځای د غزني په ولايت کې د «لومان» په سويل ختيځ کې، «هلال خيلو» [35] ته نږدې په ۲ – ۳۲، ۵۱ – ۶۷ «ج» کې موقعيت لري.

**نو شهر**: ۴۷ – ۳۳، ۵۱ – ۶۸ «ج»: دا په هغو څلورو کليو کې يو کلی دی چې د چرخ ښارګوټی جوړوي.

**نـــرَنګ**: [36]: ۴۵ – ۳۴، ۳ – ۷۱ «الف»: نرنګ د ننګرهار د ولايت يوه

نور بيا

*** ننګرهار: دا د افغانستان په ختيځ کې...**

**يادونه:** قدرمنو لوستونکو! تاسو تر دغه لينک لاندی د ښاغلی آريا صاحب په آرشيف کی د لمړی ټوک، دوېم ټوک، دريم ټوک، څلورم ټوک، او د پنځم ټوک ټولې برخې لوستی شئ.

---

35 -Helalkhel

36- NARANG : ددې نوم مخ ته ئـې په عربي الفباء «نارنګ» ليکلي دي. - ژ



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ